# هغه رګ دی، خو د هغو ورځو په اندازه لمونځ پرېږده څومره به چې مخکې حيض کېدلې، بيا غسل وکړه او لمونځ وکړه

له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې فاطمه بنت أبی حبيش له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه ويې وييل: زه چې حيض شم نه پاکيږم، نو آيا لمونځ پرېږدم؟ هغه وفرمايل: «لَا، إِنَّ ذَلِكِ عِرْقٌ، وَلَكِنْ دَعِي الصَّلَاةَ قَدْرَ الأَيَّامِ الَّتِي كُنْتِ تَحِيضِينَ فِيهَا، ثُمَّ اغْتَسِلِي وَصَلِّي». «نه، هغه رګ دی، خو د هغو ورځو په اندازه لمونځ پرېږده څومره به چې مخکې حيض کېدلې، بيا غسل وکړه او لمونځ وکړه».
[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

فاطمه بنت حبيش له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه ويې وييل: زما وينه نه درېږي او همداسې جاري وي تر دې چې د حيض نېټه هم تېره شي، نو آيا حکم يې د حيض حکم دی چې لمونځ پرېږدم؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: هغه د استحاضې وينه ده چې په حقيقت کې د ناروغ وينه ده او په رحم کې د يو رګ د پرې کېدو له امله رامنځته کېږي او د حېض وينه نه ده. نو کله چې د حيض وخت راشي چې ته به پکې د مياشتنې عادت له مخې حيض کېدلې مخکې لدې چې دا ناروغي درته پيدا شي، نو لمونځ، روژه او هر هغه کار پرېږده چې حيض لرونکې ترې د حېض پر مهال منع شوې دي. او کله چې د هغه نېټې په اندازه وخت پای ته ورسيږي، نو ته به له حېض څخه پاکه شوې يې، نو د وينې ځای ومينځه، بيا دې ټول ځان په بشپړه توګه ووينځه چې بې اودسې درڅخه لاړه شي، بيا لمونځ وکړه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3029

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee